جمهوری اسلامی افغانســـتان
وزارت معادن و پـــــترولــــیم

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د کانونو او پټـــــــرولیم وزارت

Islamic Republic Of Afghanistan
Ministry Of Mines And Petroleum



www.mom@gov.af | Momp Afghanistan | Momp Afghanistan | Momp Afghanistan
Momp.Afghanistan | pr@momp.gov.af | Momp Afghanistan | چهاراهی عبدالحق، جوار مسلخ | (+93) 744 443 363 (+93) 798 179 688



# ماهنامه معادن و پترولیم

سال تاسیس ۱۳۹۶

شماره هفتم تاریخ ۱۳۹۸/۵/۳۱


## جلسهٔ هشتم شورای عالی اقتصادی برگزار گردید

جلسهٔ هشتم شورای عالی اقتصادی چهار شنبه مؤرخ ۱٦ اسد سال ۱۳۹۸ تحت ریاست سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد رئیس جمهور در امور زیر بنا، مواصلات و منابع بشری در سالون خیبر وزارت مالیه دایر گردید. در ابتدا، تصامیم جلسه قبلی مورد تائید قرار گرفته و سپس، طبق اجندا طرزالعمل اعطای جواز صادرات سنگهای قیمتی و نیمه قیمتی با تعدیلات پیشنهاد اعضا مورد تصویب قرار گرفته و روی پروژه های مس و طلای زرکشان، طلای نورابه و سمتی، کرومایت خوست، سمنت هرات و تراورتین و مرمرغزنی، گزارش در مورد تقاضای صدور جوازهای ملی فایبر نوری به ٤ شرکت، گزارش مذاکرات پروژهٔ سمنت سمنگان بحث های همه جانبه صورت گرفته و در زمینه تصامیم لازم اتخاذ گردید.



## پیشبرد سریع کار دیزاین پایپلاین شبرغان الی مزارشریف و عیار سازی دستگاه تجرید سلفر جهت تصفیه گاز استخراجی شبرغان

نشست تعقیبی رسیدگی به مشکلات کمپنی نظارتی بر ساختمان پایت لاین انتقال گاز به مزارشریف تحت ریاست سرپرست وزارت معادن و پترولیم با حضور داشت معین مالی و اداری وزارت انرژی و آب، معین تخنیکی وزارت معادن و پترولیم، اعضای ذیدخل از وزارت های انرژی و آب و معادن و پترولیم و نمایندگان کمپنی نظارتی یونیکان؛ عصر دیروز در مقر وزارت معادن و پترولیم برگزار گردید.

پیشبرد سریع دیزاین پایپ لاین شبرغان الی مزارشریف و عیارسازی دستگاه تجرید سلفر جهت تصفیه گاز استخراجی شبرغان از عمده ترین مباحث این نشست بوده است در این نشست، مسئول کمپنی نظارتی بر ساختمان پایپ لاین گاز و عیارسازی دستگاه تجرید سلفر؛ گزارش خود را در مورد بررسی جریان کار بر اساس فیصله نشست قبلی ارائه نموده و خواستار همکاری طرفهای ذیدخل حکومتی جهت رفع چالشها گردیدند.

## عناوین مهم در برگ های این شماره


د کانونو او پټرولیم وزارت رهبري هئیت دوهم غونډه ترسره شوه





په کانونو او پټرولیم وزارت کې نوي رئیسان معرفي شول





مثمریت اجراآت، آبخوره ی تأثیرگذاری در محیط کار است




طرفهای دخیل نشست، پیشنهادات و خواسته های کمپنی نظارتی را پذیرا شده و درزمینه وعده همکاری سپردند.




## د کانونو او پټرولیم وزارت رهبري هیئت دوهم غونډه ترسره شوه



کانونو او پټرولیم وزارت د ۱۳۹۸ کال رهبري هیئت دوهم غونډه د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرستې اغلې نرگس نهان په مشرۍ ترسره شوه.

غونډه دقران عظیم شان په تلاوت پیل شوه؛ په لمړي سر کې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرستې اغلې نهان دکانونو او پټرولیم وزارت په کارکونکو تروریستي برید وغنده او وویل دا ډول بریدونه دافغانستان دصنایع استخراجي سکټور دچارو مخنوئ نشي کوئ مونږ به خپلو هڅو ته دوام ورکوو؛ اغلې نهان ټولو شهیدانو روح ته دعاوکړه او ټپیانو ته یې روغتیا هیله وکړه. دغونډې د پیلدوسره ښاغلي نورالحق فرید د کانونو او پټرولیم وزارت د دفترریئس د ۱۳۹۷ دورستیو رهبري هیئت د جلسو مفصل گزارش وړاندې کړه چې په هغې کې هغه فیصلې چې تطبیق شوي او یا هم د کار په جریان کې دي دفیصلې او تصمیم نیولو لپاره نظریات راټول شوه. په غونډه کې د کادستر ریاست رئیس ښاغلي قسیم الله قادري د هغه گزارش او تفاهم لیکونو په اړه بحث مطرح کړه کوم چې پدې ورستیو کې د ساختماني موادو د گټې اخیستنې په پار د مختلفو اداراتوسره امضا شوي وو او فیصله وشوه چې یادې تفاهم نامې د تطبیق لپاره باید دنوي قانون او مقرري په اساس اقدامات ترسره شي.

دغونډې په بله برخه کې د ۳۲۸ کیلو گرام معدني ډبرې چې په لغمان او کاپیسا او نورو ولایتونو کې نیول شوي؛ فیصله وشوه چې یادې ډبرې د نوي طرزالعمل په اساس قیمت گزاري شي او پیسې یې دافغانستان حکومت خزانې ته انتقال شي.

دغونډې بله برخه د فورس ماژور او د افغان قسمت درخام ډبرو قراردادې د مجدد تعلیق تقاضا په اړه په گزارش خبرې وشوې او یاد گزارش درهبري هیآت له لورې منظور شو.

په ورستیو کې دپروسس د جواز په طرزالعمل هم بحث ترسره شو چې پدې ورستیو کې د کانونو او پټرولیم وزارت د کادستر ریاست له لورې ترتیب شوئ؛ دیاد طرزالعمل په بنیاد به هغه شرکتونه چې دکانونو د قانون په اساس د پروسس برخه کې فعالیت کوي جواز ورکول کیږي. دغونډې په پای کې د باختر تیل تانک موضوع په اړه هم بحث وشو او فیصله وشوه؛ ترڅو داخلي تفتیش یاده موضوع وڅیړي او دنوموړي تیلو تانک په اړه بله رهبري هیئت جلسه کې گزارش وړاندې کړي.

## برنامه ظرفیت سازی در بخشهای نفت و گاز و منابع معدنی توسط کشور اندونیزیا برای کارمندان وزارت معادن و پترولیم افتتاح شد.

برنامه ظرفیت سازی در بخش های نفت و گاز و منابع معدنی برای کارمندان وزارت معادن و پترولیم به حمایت تخنیکی و مالی کشور دوست اندونزی در آن کشور توافق شده است، توسط وزیر امورخارجه جمهوری اندونزیا و معین وزارت معادن و پترولیم در مقر معاونیت ریاست جمهوری کشور اندونیزیا افتتاح شد.

وزیر امورخارجه اندونیزیا در برنامه افتتاحیه این برنامه ها ابراز داشت: «توسعه اقتصادی برای برقراری صلح پایدار افغانستان از اهمیت ویژه برخوردار است و اندونیزیا از روند صلح به رهبری افغانها و متعلق به افغانستان حمایت می کند». او همچنان در ادامه گفت که اندونزی در حال کاهش تعرفه ها و باز کردن بازارهای خود برای محصولات افغانی است، همچنان خاطر نشان ساخت که در پایان دوره های آموزشی،شرکت کنندگان این برنامه گواهینامه های سطح بین المللی را دریافت خواهند کرد.

محترم سید محبوب الله ربانی معین مالی و اداری وزارت معادن و پترولیم ضمن سپاسگزاری از حسن نیت کشور دوست اندونیزیا؛ در سخنان خویش به روابط تاریخی دیرینه میان دو کشور اشاره نموده و از همکاری های آن کشور در بخش ظرفیت سازی برای صلح افغانستان اظهار سپاس و قدردانی نمود. آقای ربانی اظهار داشت: «افغانستان فرصتهای خوب سرمایه گذاری را در سکتور معادن و پترولیم مساعد گردانیده است، که میتوان آن را فرصت مناسب ورودسرمایه گذاران بین المللی دانست». در این برنامه به تعداد (٦٥) نفر از کارمندان وزارت معادن و پترولیم دربرنامه های معدنکاری، نفت و گاز و پالیسی معدنکاری اشتراک داشتند که به تعداد (۳۵) نفر دیگر به زودی در بخشهای آنالیز منرالها و اقتصاد معدن، راهی اندونیزیا خواهند شد. باید یاد آور شد که در مجموع به تعداد (۱۰۰) بورسیه آموزشی کوتاه مدت در بخشهای مختلف سکتور صنایع استخراجی از طرف کشور دوست اندونیزیا برای کارمندان این وزارت در نظر گرفته شده است.



## د کانونو او پټرولیم وزارت مشرتابه د لویدیځ زون د مرمر کارکونکو سره ولیدل



د کانونو او پټرولیم وزارت ځای ناستې وزیرې نن ورځ له غرمې مخکې د لویدیځ زون کان کیندونکوسره د غونډو په تالار لیدنه وکړه .

په دغه ناسته کې، آغلې نهان د لویدیځ زون د مرمر کارکونکو د گمرکي تعرفو، د کان د قانون په اساس د رویالټۍ ورکړې، مالیې، بریښنا ترانسپورټ او په مستوفیتونو کې د مالیې د ورکړې په لار کې ټول خنډونه او ستونزې واوریدې؛ او له دوی څخه یې د کاري تقسیم او قات مطابق د توافقنامو د پلي کولو او د اسنادو او راپورونو په وخت سپارلو غوښتنه وکړه.

## د مرمر ډبرو په کانونو کې په وړه کچه د کان کیندنې د تړون د تعدیل په موخه، ۹ هوکړه لیکونه لاسلیک شول

کانونو او پترولېم وزارت د هرات ولایت د مرمرو ډبرو په کانونو کې په وړه کچه د کان کیندنې د تړون د تعدیل؛ هوکړه لیکونه لاسلیک کړل.

د کانونو او پترولېم وزارت سرپرستې نرگس نهان، چې د دوشنبې په ورځ یې د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د کان کیندنې د خصوصي‌شرکتونو له استازوسره د تړونونو دلاسلیک په موخه جوړ شوي کنفرانس ته وینا کوله، زیاته کړه: د مرمر ډبرو د استخراج په ۹ تړونونو کې رامنځته شوي تعدیلات د نړیوالو ستندرډونو په رڼا کې ترسره شوي دي، څو په راتلونکې کې حقوقي ستونزې رامنځته نشي.

مېرمن نهان وویل، چې د کان کیندنې د ۱۴۷ وړو او منځنیو پروژو له ډلې څخه یو شمېر یې له سختو تخنیکي او حقوقي ستونزوسره مخ وې او تړون کوونکوشرکتونو نه شو کولای چې له لومړني تړون‌سره سم کار ترسره کړي.

هغې وویل، ۹ پروژې، چې نن ورځ یې د تړونونو د تعدیل هوکړه لیکونه؛ لاسلیک شول، ۱۴۷ پروژې په کې شاملې دي چې تړون کوونکو شرکتونو یې دوه کاله وړاندې د تعدیل غوښتنه کړې وه.

د کانونو او پترولیم وزارت سرپرستې په تېرو وړو او متوسطو پروژو کې د مشکلاتو شتون، د وړو تړونونو دلاسلیک په برخه کې د دغه وزارت د بشپړې تجربې نشتون یاد کړ.

هغې زیاته کړه چې د مالیې، اقتصاد، سوداگرۍ، عدلیې، کانونو او پترولیم وزارتونو او د ملي تدارکاتو ادارې د گډې کمېټې لخوا د یادو ۹ تړونونو د څېړنې بهیر، څو میاشتې ونیولې او په پای کې تر بشپړېدو وروسته دادی نن لاسلیک شول.

آغلې نهان ټینگار وکړ چې په وړه کچه د کان کیندنې د ۹ تړونونو د تعدیل د هوکړه لیکونو دلاسلیکېدو پر اساس د هرات ولایت د اوبې او چشت شریف ولسوالیو د مرمر ډبرو کانونو اړوندشرکتونه مکلف دي، چې د یوې میاشتې په اوږدو کې خپل د گټې اخیستنې پلان د کانونو وزارت ته وسپاري څو نوموړی وزارت د گټې اخیستې د پلان له منظورۍ وروسته‌شرکتونو ته د استخراج اجازه ورکړي.

د کانونو او پترولېم وزارت سرپرستې وویل چې ۲۰۱۹ کال په افغانستان کې د استخراجي صنایعو پر سکتور د پانگې اچونې کال دی.



## په کانونو او پټرولیم وزارت کې نوي رئیسان معرفي شول

هغه مجلس چې د کانونو وزارت د داخلي تفتیش ریاست او د کابل ولایت د کانونو ریاست لپاره د نوي رئیسانو د پیژندگلوۍ په خاطر نیول شوی ؤ، په نوموړي مجلس کې د کانونو وزارت تخنیکي مرستیال ښاغلي عنایت الله مهمند او اداري مرستیال ښاغلي سید محبوب الله رباني له لوري نوي رئیسان د دې وزارت کارکونکو ته ور وپیژندل.

په لومړی سر کې د کانونو وزارت تخنیکي مرستیال ښاغلي عنایت الله مهمند د کابل د کانونو ریاست پخواني ځای ناستي ښاغلي نعمت الله غورځنگ د کارونو څخه مننه وکړه چې وروسته یې ښاغلی غلام حیدر کاتب د کابل د کانونو ریاست لپاره د نوي رئیس په حیث ور وپیژانده، او هم یې ښاغلي کاتب ته په خپلو کارونو کې د کامیابۍ هیله څرگنده کړه .او همدارنگه د کانونو وزارت مالي او اداري مرستیال ښاغلي سید محبوب الله رباني د داخلي تفتیش پخواني ځای ناستي‌رئیس ښاغلي محمد فهیم هاشمي څخه قدرداني وکړه چې خپلې چارې یې په پوره حوصله مندۍ ترسره کړي، چې له هغې وروسته یې ښاغلی عبدالطیف صدرا چې دآزادې سیالۍ له لارې د دې ریاست چوکۍ ته کامیاب شوی ؤ، د دې وزارت راټول شوو گډونوالو ته یې د داخلي تفتیش د رئیس په حیث ور وپیژانده .د دې ترڅنگ نوموړو باستونو لپاره نوو ورپیژندل شوو رئیسانو هم د کانونو وزارت له مشرتابه

او دولت څخه مننه وکړه، چې په دوی باندې یې باور وکړ، او وعده یې وکړه چې ورسپارل شوي مســــؤولیتونه په ښه شان ترسره کیدو، د وزارت د برنامو تطبیق او د خپلو کارکونکوسره یې په کارونو کې د ښې همکارۍ ډاډ ورکړ.



## نمایشگاه معلوماتی وزارت معادن و پترولیم به مناسبت صدمین سالگرد استرداد استقلال کشور، افتتاح شد



به مناسبت صدمین سالگرد استرداد استقلال کشــور نمایشــــگاه بزرگ تولیدات داخلی تحت نام "دهکده ی افغانستان" توسط شهرداری کابل برای مدت (۱۰) یوم در چمن حضوری کابل، برگزار گردید.

وزارت معادن و پترولیم با ساخت غرفه ی معلوماتی از منابع معدنی افغانســــتان و فرصتهای سرمایه گذاری در سکتور صنایع استخراجی در این نمایشــــگاه اشتراک نموده وعملاً عصر روز یکشنبه توسط محترم حسین داد شفاهی معین سروی جیولوجی وزارت معادن و پترولیم و با اشــتراک محترم احمد ذکی سرفراز شـــهردار کابل، محترم عبدالباقــی پوپل معین ارگانهای محل، محترم خانجان الکوزی معاون هیئت مدیره اتاق تجارت وسرمایه گذاری، رؤسای وزارت معادن و پترولیم و اشــتراک صدها تن از متشبثین و اصناف مختلف با قطع نوار، افتتاح شد.





قابل یادآوریســــت که نمایشــــگاه متذکره به گونه ی همه روزه در خدمت هموطنان وسرمایه گذاران قرار داشته و فرصت مناسب شناخت و ارتباط با سکتور صنایع استخراجی را مساعد گردانیده است.

## دولتي ادارو مخکې له مخکې د اطلاعاتو شریکولو په برخه کې د قانون حکمونه د قناعت بښلو په کچه په پام کې نیولي دي

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسـیون د ۵۲ دولتي ادارو ویب پاڼو اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون د ۱۵ مې مادې د بندونو پر اساس څارنه ترسره کړې ده.

کانونو او پټرولیم وزارت دیاد ګزارش په اســـاس په لمړۍ کټګورۍ کې ځای خپل کړیدیدا څارنه د پوښــــتنو او عیني کتنو له مخې د ادارو د ویب پاڼو په برخه کې د ادارې د استازي په شتون او د هغوي د لاسلیک په تاییدسره ترسره شوې ده .او د هدفونو او کاري ساحې او تفکیک له مخې ادارې په دریو کټګوریو؛ غوره، منځنۍ او ضعیفو ادارو باندې وېشل شوې دي.

.

